٢٠١/٠۶/٢٠ سردار محمد همدرد

# بې ودانۍ پوهنتون




د پخواني ولسمشر حامدکرزي د حکومت له جوړېدو سره سم په ټول هېواد کې د پوهې د رواجېدو لپاره ځایونه جوړ سول، په ښوونځي تر پوهنځي او له لېسې تر پوهنتونه چې د هېواد په لر او بر کې ځوانانو لومړنۍ، منځنۍ او لوړې زده کړې پکې پیل کړې او دا لړۍ تر اوسه روانه ده.
د افغانستان سیمې هم توپیر لري، یو شمېر سیمې داسې وې چې ځوانانو او مشرانو یې د هېواد د نورو خلکو په پرتله له زده کړو سره ډېره مینه وه سملاسي ورته دولت پوهنتونونه جوړ کړل، زده کړه ییز امکانات یې په واک کې ورکړل او تر ننه پکې زده کړې کوي، زرګونه ځوانان ترې فارغه شول او ټولنې ته وړاندې شول.
هلمند چې د هېواد په سویل کې پروت لوی ولایت دی، د نور هېواد په پرتله ډېره جګړه پکې وسوه او اوس هم روانه ده، حکومت به هغه ولایتونو ته چې خلک یې جنګ ځپلي وو، ځانګړې توجوه کوله، په ځانګړي ډول د دوی زده کړو ته به یې تر نورو ډېر امکانات ورکول، ځوانانو ته به یې ډېره پاملرنه کوله، خو هلمند کې داسې ونه وسول.
هلمند ته یې په ډېرو غوښتنو او زاریو پوهنتون ورکړل، شاوخوا اته کاله وړاندې دا پوهنتون تاسس شو چې لومړیو کې یې کرنې پوهنځی درلود خو اوس د دغه پوهنتون د پوهنځیو شمېر څلورو ته لوړ سوی دی او د هېواد له لره او بره زرګونه ځوانان زده کړې پکې کوي.
خو پوښتنه دا ده چې ولې تر اوسه دغه پوهنتون ودانۍ نه لري؟
د پوهنتون د مسؤلینو د غوښتنې او د هلمند مدني ټولنې د غړیو د پرلپسې غوښتنو وروسته د کرزي د حکومت پر مهال له لښکرګاه ختیځ لور ته ۱۷ کیلومتره لیرې د شینډک مانده سیمه کې د پوهنتون لپاره ۷۰۰ جریبه ځمکه ورکړل سوه خو دغه سیمه له ښاره لیرې او دومره نا امنه ده چې حتی د سروې لپاره هم څوک نه سي ورتلی.
وروسته د لوړو زده کړو وزیر چې هلمند ته راغلی وو، لښکرګاه ښار کې د هلمند پوهنتون لپاره ۷۵ جریبه ځمکه ورکول سوه او ورسره سم د نشه یي توکو پر ضد وزارت لخوا د JPI د یو ځانګړي پروګرام له لارې د پوهنتون د ودانۍ لپاره هم پوره ۱،۵ میلیونه ډالر ځانګړي سول.
لومړی دا چې دغه ۷۵ جریبه ځمکه تر اوسه د غصب لاندې ده، د یو شمېر دولتي ادارو ملکیت دی او هغه پیسې چې د ودانۍ لپاره ځانګړې سوې وې تر اوسه یې درک نسته.
د هلمند پوهنتون محصلین په ډېر سخت چاپیریال کې چې ټولګي یې تنګ، چوکۍ نه لري اوحتی د انساني اړتیا د پوره کولو لپاره هم د باندې نه سي تللی ناست وي او درسونه وایي، ددغه پوهنتون محصلین او د پوهنتون اداره د پوهنې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ریاست په ودانیو کې اوسي چې د دغه ریاست لخوا ورته څو ځل غوښتني وسوې ترڅو د دوی ځای خالي کړي خو کوم خواته ولاړ سي؟ له یوه کاله تر بله د پوهنتون د محصلینو شمېر هم لوړیږي، پوهنځي یې هم ډېرېږي خو لا هم پوهنتون ځای او ودانی نه لري.
د ودانی د جوړېدو او د ځای د تثبیتېدو لپاره هلمند مدني ټولني او د پوهنتون مسؤلینو په ګډه لسګونه رسنیز کنفرانسونه ورکړل، پخواني ولسمشر حامدکرزي یې د جوړېدو ټینګه ژمنه وکړه خو کله به پوره کېږي!!؟؟
وروسته د پوهنتون ټول پرسونل د اعتراض په توګه خپل درسي بهیر وځنداوه او مرکز ته ولاړل ترڅو یې د ځای او ودانی ستونزه هواره شي، ولسمشر محمد اشرف غني ورسره ټینګه ژمنه وکړه چې د ځمکي جنجال به هواري، ځای به ورته تثبیتوي او هغه پیسې چې د پوهنتون لپاره ځانګړي سوې وې د ورکولو جدي امر یې وسو، خو د ولسمشر د دومره جدیت سره بیا هم هیڅ ونه وسول.
د کابل پوسټ د ورځپاني د یو راپور له مخې چې د هلمند پوهنتون د ځمکي او نورو ستونزو په اړه یې جوړ خپور کړی وو، د دغه پوهنتون د مشر انجینر سورګل عبدالرحمن له قوله یې لیکلي وو چې، وزارت ورته هیڅ انکشافي بودیجه له دې امله نه ورکوي چې د وزارت پلمه دا ده چې پوهنتون خپل ځای نه لري، خو په دې ته نه ګوري چې د ځای پیدا کول او د ودانی جوړول د چا کار دی؟.
د پوهنتون د مشر له قوله دوی خپله د محصلینو او استادانو په مرسته چې په یو نیم کال کې یې ۱۷لاکه افغانی ټولي کړي دي او د پوهنتون یو شمېر ستونزې یې هواري کړي دي.
لنډه دا چې نږدې دوه اونۍ وړاندې ولسمشر محمد اشرف غني هلمند ته راغلی وو، د نورو غوښتنو سره سره زما یوه لویه او اساسي غوښتنه دا وه چې د پوهنتون د ځای او ودانی غم دې وخوړل سي
خو تر اوسه نه ده مالومه چې کله به ځای تثبیت سي، د پوهنتون په واک کې به ورکول سي او ودانی به جوړه سي.
اوس د ښار په زړه کې چې کومه ځمکه پوهنتون ته ورکول سوې ده یو شمېر زورواکي غواړي غصب یې کړي، دا ځمکه د پوهنتون په واک کې نه ورکول کېږي او پوهنتون له لوی جنجال سره مخ دی.
د هلمند په څېر لوی ولایت چې له کابل وروسته دویم هغه ولایت دی چې د هېواد د هر ولایت خلک پکې ژوند کوي او خپله غېږه یې ورته پرانیستي ده، د وګړو شمېر یې ډېر لوړ دی، خو پوهنتون یې دومره ستونزې او مشکلات لري چې دولت یې لا د هواری لپاره نه تر اوسه کوم کار کړی او که څه یې کړي فقط یې له خپلي غاړې اړولي دي.
له یوې خوا که د ودانی د ستونزو پړه پر دولت اچوو، بل پلو زموږ ولس ته هم ګوته نیول کېږي، خلک مو ویښ نه دي، څنګه چې پکار وه هغه ډول یې نه د پوهنتون د ځمکي غم خوړلی او نه یې غوښتنه کړې ده، په داسي حال کې چې د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې موږ او تاسو شاهد یو د پوهنتون د جوړېدو لپاره حتی ښځو خپل زیورات وپلورل او پیسې یې پوهنتون ته ورکړې.
د هلمند شتمن هم په دې برخه کې بې غوره پاتې سوي دي، د بېلابېلو ځایونو د رغولو لپاره پیسې لګوي، خو د پوهنتون په څېر اساسي او مهم ځای چې د هېواد جوړوونکي ترې فارغېږي، راتلونکی پرې روښانه کېږي، د موجوده ټولو ستونزو د هوارۍ کیلي همدغه پوهنتون دی خو شتمنو هیڅ پام ورته نه دی کړی، ګني د هلمند په غېږه کې دومره ډېر سوداګر او بډایه خلک پراته دي چې د هلمند پوهنتون په څېر تر لسو ډېر جوړولی سي، خو زموږ لوی بد عادت دا دی چې هر څه په یو مشخص چا پورې تړو، ټوله تکیه مو په دولت ده، خپله هیڅ نه کوو.
له همدې ځایه یو ځل بیا پر حکومت، په ځانګړي ډول پر ولسمشر، اړونده ادارو غړ کووم چې لومړی دې د پوهنتون ځمکه له جنجال خلاصه کړي، بیا دې یې تثبیت کړي او ودانی دې پرې جوړه کړي ترڅو یوازې د هلمند نه بلکي د هېواد د لر او بر زرګونه ځوانان دلته زده کړې کوي او د هېواد راتلونکی ورته ګوري.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ